


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# فاروق « فردا »

د نشرنيټه : 13 جولای 2022 ميلادی

# غزل

يو څوک مې په ګاوند کښې ده آشنايي کم که نه ؟
خپه خپه را ګوري د لاسايي کم که نه؟
د چا د تيکري رپ مې په پياله کښې انځور شوی
دا وخت مې د لمانځه دی مصلی يې کم که نه؟
نظر يې ژوبل کړی زما بانه بېګاه په خوب
لېمې مې جرګه کړي دي پخلا يې کم که نه؟
ثواب په ټوپک غواړي په جومات کښې به اوسيږي
طالب لږ زورور دی چې ملايې کم که نه؟
له چانه مېکدې ته دی زاهد راغلی پټ
پياله يې ده لستوني کښې رسوا يې کم که نه؟
يو څوک دی خپلوي مې د موسکا په بيه زره
حېران دې معاملې ته يم اعطا يې کم که نه؟
په هر اړخ د نظر کښې زيږوي زره حېراني
لوګی د نظر ژڼ مې چې تر خوا يې کم که نه؟
د چا د شونډو ګل دی مور يې وې د تا پر مخ
تورتم کښې چا، وې ښکل کړم په فردا يې کم که نه؟
***
فاروق « فردا »

بازګشت به صفحه اصلی – www.said-afghani.org